# د جادو او غيب ويونکو د حکم په اړه پيغام

د شيخ عبدالعزيز بن عبدالله بن باز لخوا

-رحمه الله-

Islamhouse.com

المحتوى الإسلامي

# دجادو اوغیب ویونکو د حکم په اړه پیغام

د شیخ عبدالعزیز بن عبدالله بن باز لخوا
رحمه الله

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي



يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.



Telephone: +966114454900

ceo@rabwah.sa

P.O.BOX: 29465

RIYADH: 11557

www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرېزه

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهداه، أما بعد:

جادو له لويو ګناهونو څخه ده، او يو له هغو اوو بربادوونکو ګناهونو څخه چې الله –تعالى- او رسول يې **-صلى الله عليه وسلم-** ورڅخه په ځان ساتلو امر کړی دی او جادو په دې وختونو کې په بېلابېلو بڼو او کيفيتونو څرګند او خپور شوی دی،

کله نا کله د تفريحي، مسخرې او پارووونکو فلمونو تر نوم لاندې پيدا کيږي، او کله هم د زهد (ملنګۍ) او کراماتو په پلمه او کله هم د شرعي رقيې (دم او دعا) تر پردې لاندې وړاندې کيږي.

او ځيني وختونه د حکيمي طب (يوناني طبابت)، او په بوټو درملنې او داسې نورو بڼو او شکلونو سره وي چې په هغو کې جادو او سحر راڅرګندېږي، او له جاهلانو او هغو کسانو څخه پټ وي چې په دين کې بصيرت او پوهه نلري.

او څرنګه چې د سعودي عربستان د ستر مفتي او د عالمانو د شورا د رئيس او د علمي څېړنو او افتاء د څانګې مشر شيخ عبدالعزيز بن عبدالله بن باز -رحمه الله- په کتاب کې د جادو د حکم، ورڅخه ځان ژغورنې او کاهنانو ته د تللو حکم په ساده او اسانه طريقه، د قران او نبوي سنت له شرعي دلايلو سره يوځای بيان شوی دی، نو د اسلامي چارو، اوقافو، دعوت او ارشاد وزارت د دې کتاب خپرول او چاپ اړين وباله.

د شيخ ابن باز -رحمه الله- دغه کتاب د جادو او سحر حکم، غيب ويونکو او جادوګرانو ته د تللو حکم د هغه د مبارکو هلو ځلو يوه برخه ده او د خېر کارونو ته د خلکو په بلنه کې د هغه پرله پسې ونډه ، ددين په پوهاوي، د احکامو په بيانولو، له منکراتو او بديو څخه په ځان ساتنې او په اړه يې خبرتيا ورکولو، مسلمانانو ته نصيحت کولو، او د الله د سپيڅلي کتاب، د هغه د پيغمبر سنتو او د پخوانيو نيکو خلکو د لارښوونو پيروۍ کولو ته د هغوی بلنه. او لدې پرته ټول باطل فکرونه، مذهبونه او باطلې عقيدې پرېښودل دي.

او دا هغه څه دي چې دا مبارک هيواد او هوښياره رهبرۍ يې پرې روانه ده، الله پاک دې پرې ثابته لري، او د دې لپاره يې د مرستې، بريا او ملاتړ اسباب چمتو کړي دي، الله دې د کتاب مؤلف شيخ او علامه ته تر ټولو غوره اجر او تر ټولو زيات ثواب ورکړي.

او له الله تعالى څخه غواړو چې پدې كتاب سره هر هغه چاته ګټه ورسوي چې لولي، اوري او يا يې ويني، او موږ ټولو ته د كتاب او سنتو د پيروۍ لارښوونه وكړي، او د شيطان له وسوسو، د هغه له طريقو او لارو چارو مو وساتي، ځكه هغه ساتونكى او پر دې كار باندې ځواكمن ذات دى او الله - تعالى - د نېغې لارې لارښود دى، او درود دې وي زموږ پر پيغمبر محمد - -صلى الله عليه وسلم- - د هغه پر كورنۍ او پر ټولو اصحابو.

عبدالله بن عبد المحسن التركي

د اسلامي چارو، اوقافو، دعوت او ارشاد وزير

# د جادو او له غیبو څخه د خبرورکولو حکم او هغه څه چې ورسره تړاو لري

د دې لیکنې یوه برخه د «مجموع فتاوی و مقالات متنوعه» کتاب په دریمه برخه کې (د جادو او غیب ویلو حکم او هغه څه چې ورسره تړاو لري) تر عنوان لاندې خپره شوې ده، او ټوله مقاله د ریاست د دفتر لخوا د (د جادو او غیب ویلو د حکم) تر عنوان لاندې صادره شوې او د یمامه او اسلامي څېړنو مجله کې خپره شوېده.

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وبعد:

په دې وروستیو کې د جادوګرانو لوی شمېر ته په پام چې د طبابت ادعا کوي او د جادو یا غیب ویلو له لارې درملنه کوي، او په ځینو هیوادونو کې د دوی خپریدل، او د خوش باوره خلکو څخه د دوی ناوړه ګټه اخیستنه چې تر ډیره کچه جاهل او ناپوهه دي - ما د الله لورې ته د بلنې او بندګانو ته د مشورې په توګه غوره وګڼله چې پر اسلام او مسلمانانو د دې موضوع لوی خطر بیان کړم، ځکه چې پدې کې د الله تعالی پرته له بل چا سره د تعلق او تړاو درلودل او د هغه د حکم او د هغه د رسول له حکم څخه سرغړونه ده.

نو زه د الله په مرسته وایم چې په اتفاق سره درملنه کول روا دي او مسلمان کولای شي چې د داخله، جراحۍ، عصبي او داسې نورو ناروغیو لپاره ډاکټرانو ته ولاړ شي؛ ترڅو یې د ناروغۍ تشخیص او پر بنیاد یې په مناسب ډول درملنه وکړي چې شریعت جواز ورکړی وي او په طبابت کې مجاز وي؛ ځکه چې دا د عادي اسبابو د کارولو په باب کې راځي او په الله باندې د توکل سره مخالفت نه لري او الله -سبحانه و تعالی- ناروغي نازله کړې ده او ورسره یې شفاء هم نازله کړې ده، هغه باندې هغه څوک پوهیږي چې پوهیږي او هغه څوک پرې نه پوهیږي چې نه پوهیږي، مګر الله -سبحانه و تعالی- د خپلو بندګانو لپاره په هغه څه کې شفا نده ایښودلې چې هغه یې پرې حرام کړي دي.

نو د ناروغ لپاره جواز نلري هغو کاهنانو (غیب ویونکو) ته ورشي چې په غیبو د پوهیدو ادعا کوي ترڅو له هغوی څخه د خپلې ناروغۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي، همدارنګه جوار نلري په هغه څه باور وکړي چې دوی یې ورته وایي، ځکه چې دوی له غیبو څخه خبرې کوي، او یا پېریان رابلي او له هغوی څخه د خپلو غوښتلو لپاره مرسته

غواړي او د دوی حکم کفر او ګمراهی ده کله چې دوی په غیبو د پوهیدلو ادعا کوي.

مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی چې نبي **-صلی الله علیه وسلم-** وفرمایل:

(من أتى عرَّافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين يوماً) (څوک چې د کاهن -غیب ویونکي- ته لاړ شي او له هغه څخه د څه شي پوښتنه وکړي نو څلویښت ورځې یې لمونځ نه قبلیږي).

(من أتى كاهناً فصدّقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد ) (څوک چې غیب ویونکي ته ورغی او په هغه څه کې یې رښتونی وګانه چې هغه یې وایې نو پر هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی).

او له ابوهریره -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله **-صلی الله علیه وسلم-** وفرمایل:

(څوک چې یو کاهن ته لاړ شي او د هغه په خبرو باور وکړي هغه کافر شو په هغه څه باندې چې پر محمد نازل شوي دي)

ابو داود روایت کړی او د څلورو سننونو خاوندانو تخریج کړی دی او حاکم تصحیح کړی د نبي **-صلی الله علیه وسلم-** په دې لفظ سره:

(څوک چې کاهن ته لاړ شي او د هغه د خبرو تصدیق وکړي؛ یقینا چې هغه پر هغه څه چې پر محمد نازل شوي دي کفر کړی).

له عمران بن حصین -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله - **صلی الله علیه وسلم** - وفرمایل:

(ليس منا من تطير أو تطير له أو تكهن أو تكهن له أو سحر أو سحر له ومن أتى كاهناً فصدّقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد )

(هغه څوک زمونږ څخه ندی چې خپل فال ووینې، یا ورته فال ولیدل شي، یا وړاند وینه وکړي او یا ورته وړاندوینه وشي، یا جادو وکړي او یا ورته جادو وکړی شي، او څوک چې غیب ویونکي ته لاړ شي او د هغه د خبرو تصدیق

وکړي؛ يقينا پر هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوي دي).

البزار په ښه سند سره روايت کړی دی.

نو په دې مبارکو حديثونو کې غيب ويونکو، کاهنانو، جادوګرانو او دوی ته ورته کسانو ته تلل، له هغوی څخه پوښتنه کول او باور پرې کول او پدې - کارونو - سخت ګواښل راغلي دي،

نو حاکمانو، محتسبينو او نورو ټولو هغه کسانو باندې چې ځواک او واکمني لري فرض ده چې د کاهنانو او فال ويونکو او دې ته ورته نورو کسانو له تګ څخه خلک منع کړي او د هغو کسانو مخه ونيسي چې په بازارونو او نورو ځايونو کې په دې کار کې لاس لري، او د هغوی دا کار په کلکه وغندي او همدارنګه هغه کسان دې منع کړي چې دې ډول خلکو ته ورځي.

او ورته روا ندي چې د هغوی په ځينو چارو کې يې په ربنتينولۍ وغولېږي، او نه هم په دې چې هغوی ته ډير خلک ورځي، ځکه دوی جاهلان دي او جواز نلري چې خلک پر هغوي باندې دوکه شي؛ ځکه رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- هغوی ته له تللو، له هغوی څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د خبرو له تصديق کولو څخه منع کړې ده، ځکه چې پدې کې لوی منکر، ستر خطر او ناوړه پايلې لري، ځکه چې هغوی دروغجن او فاجران دي.

همدارنګه په دې احاديثو کې د کاهن او جادوګر د کفر ثبوت دی، ځکه چې دوی د غيب د علم دعوه کوي او دا کفر دی، او دا چې دوی خپلې موخې ته نه رسيږي پرته له دې چې د پيريانو خدمت وکړي او له الله پرته يې عبادت وکړي او دا په الله باندې کفر او له هغه -سبحانه و تعالى- سره شرک کول دي، او هر هغه څوک چې دغه دعوا کوي چې هغوی په غيبو باندې پوهيږي تصديق کړي هغه هم د هغوي په څير حکم لري او څوک چې دغه چارې له ښکيلو خلکو څخه ترلاسه کړي، رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- له هغوي څخه بې زاره دی.

او د مسلمان لپاره جواز نلري چې هغه څه ته چې هغوی يې ګمان کوي چې هغه درملنه ده لکه د جادوګرۍ خبرې او يا د سورب (رصاص) تويول او داسې نور هغه خرافات چې دوی يې کاروي، ځکه چې دا له غيبو څخه خبرورکول او خلک دوکه کول دي او څوک چې په دې راضي شي نو په يقين سره هغه په باطل او کفر کې هغوی سره مرسته وکړه.

دا هم جواز نلري چې هيڅ يو مسلمان دوی ته ورشي او پوښتنه ترې وکړي چې زوی يا خپلوان به يې له چا سره واده کوي، يا د ميړه او د دوی د کورنيو تر منځ به مينه او وفاداري يا دښمني او جلاوالی او داسې نور څنګه وي؛ ځکه چې دا له غيبو څخه دي چې يوازې الله - سبحانه و تعالی- وربانديي پوهيږي.

او جادو له کفري محرماتو څخه دی لکه څرنګه چې الله تعالی په البقره سورت کې د دوو پرښتو په اړه فرمايلي دي:

﴿...وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ١٠٢﴾[البقرة: 102]

**(او دغو دواړو به هيچا ته ښودنه نه کوله، مګر چې ويل به يې: اصل خبره دا ده چې مونږ يَوْ ازمېښت يو، نو ته مه کافر کېږه، نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره به يې د سړي او د هغه د ښځې په مينځ کې جدايي راوستله، او په دې (جادو) سره دوی هيچا ته هم ضرر نه شو رسولی مګر د الله په حکم سره، او دوی به هغه څه زده کول چې دوی ته به يې ضرر رساوه او فايده به يې ورته نه رسوله او يقينًا يقينًا دوی په دې پوه وو چې چا دا (سحر) واخيسته، نو د هغه لپاره په اخرت (جنت) کې هېڅ برخه نشته، او يقينًا بد دی هغه څيز چې د هغه په بدل کې دوی خپل ځانونه خرڅ کړل، که چېرې دوی پوهېدلی).[سورة البقرة، الآية: 102].**

نو دغه مبارک آيتونه پر دې دلالت کوي چې جادو کفر دی او جادوګران د سړي او ښځې تر منځ بېلتون راولي. او پر دې هم دلالت کوي چې جادو پخپل ذات کې ګټه او تاوان نه رسوي، بلکې دا د الله د ګوني تقديري اجازې سره سم اغيزه درلودلی شي، ځکه چې الله -تعالی- د خير او شر پيدا کوونکی دی، او ددغو درواغجنو کسانو چې دغه پوهه يې له مشرکانو څخه په ميراث وړې ده خورا لوی زيان او ستونزې يې رامنځته کړي

دي، او په ضعيف عقل لرونکوو يې ترسره کوي، نو موږ ټول د الله يو او د هغه لوري ته ورګرځو، او الله زموږ لپاره کافي او ښه استازی دی.

همدارنګه دغه مبارک ايت په دې هم دلالت کوي چې هغه څوک چې جادو زده کوي يوازې هغه څه زده کوي چې ورته ضرر رسوي او ګټه نه لري او دا چې د الله په نزد د دوی برخه نشته، يعني: (قسمت او نصيب)، او دا د جادوګرو لپاره يو ستر ګواښ دی چې په دنيا او اخرت کې به هغوی تاوانيان وي، او دا چې دوی خپل ځانونه په ټيټه بيه وپلورل، او له همدې امله الله تعالی په دې وينا سره دوی ته ملامت کړل:

﴿... وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ﴾[البقرة: 102]

**(او يقينًا بد دی هغه څيز چې د هغه په بدل کې دوی خپل ځانونه خرڅ کړل، که چېرې دوی پوهېدلی) [سورة البقرة، الآية: 102]،**

او الشراء دلته د پلورلو معنا لري.

موږ له الله -جل جلاله- څخه د جادوګرانو، فال ويونکو او نورو کوډګرانو له شر څخه د عافيت او سلامتيا غوښتنه کوو، او همدارنګه موږ له هغه – سبحانه و تعالی- څخه غواړو چې مسلمانان ددوي له شر څخه وساتي، او مسلمانو واکمنانو ته دې توفيق ورکړي چې د دوی څخه باخبره اوسي او د الله حکم پرې پلی کړي ترڅو چې بندګان د دوی له ضرر او بد عمل څخه آرام شي، ځکه چې هغه سخي او کريم ذات دی.

الله -جل جلاله- د خپلو بندګانو لپاره هغه څه روا کړي دي چې د جادو له واقع کېدو څخه وړاندې پرې خپل ځانونه وساتي او الله پاک هغوی ته دا - هم - واضح کړې ده چې د جادو له کېدو څخه وروسته پرې خپله درملنه وکړي، دا د هغه له خوا پر دوی باندې مهرباني او احسان دی او پر دوی باندې د هغه د نعمت بشپړول دي.

لاندې د هغو شيانو په اړه وضاحت دی چې د جادو له اغيزې څخه مخکې پرې ځان له خطر څخه ژغورل کيږي او هغه شرعي مباح څېزونه چې د جادو له اغيزې وروسته پرې درملنه کيږي.

او هغه څه چې د سحر له خطر څخه مخکې پرې ځان ژغورل کيږي تر ټولو اړين او ګټور يې : په شرعي اذکارو، مسنونو دعاګانو او معوذاتو سره ځان ژغورل دي، د هغې له جملې څخه، د فرض لمونځونو پسې له مشروعه اذکار او له سلام څخه وروسته د آيت الکرسي تلاوتول دي، همدارنګه د دغې آيت تلاوت کول مخکې له خوب څخه، او آيت الکرسي په قرآن کريم کې تر ټولو ستر آيت دی او هغه د الله تعالی دغه وينا ده:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ﴾[البقرة: 255]

**(الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې له دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي، د هغه کرسۍ آسمانونه او ځمکه راځای (راګېر) کړي دي او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت، ډېر لوی دی)[سورة البقرة، الآية: 255].**

او د هغې له جملې څخه د لاندې سورتونو تلاوت کول دي:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾[الإخلاص: 1]

**[(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی] [سورة الإخلاص، الآية: 1]،**

او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾[الفلق: 1]

**[(اې نبي) ته ووایه: زه په رب د سبا پورې پناه نیسم] [سورة الفلق، الآية: 1]،**

او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾[الناس: 1]

**[(ای نبي) تهووایه: زه د خلقو په رب پورې پناه نیسم] [سورة الناس، الآية: 1]**،

د هر فرض لمانځه وروسته او د سهار له لمانځه وروسته د ورځې په پیل کې د سهار له لمانځه وروسته، او شپې په پیل کې د ماښام له لمانځه څخه وروسته او د خوب په وخت کې دغه درې سورتونه درې ځلې باید ولوستل شي او د هغو له جملې څخه د شپې په پیل کې د سورت البقرې له پای څخه د دوو آیتونو لوستل هم شامل دي، چې هغه د الله -تعالی- دغه قول دی:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾[البقرة: 285]

د سورت تر پایه پورې. **(رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی ؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایي) مونږ د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې توپیر نه کوو او وایي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی) [سورة البقرة، الآية: 285]**

په صحیح روایت کې راغلي دي چې رسول الله -**صلی الله علیه وسلم**- وفرمایل:

(من قرأ آية الكرسي في ليلة لم يزل عليه من الله حافظ ولا يقربه شيطان حتى يصبح)

(څوک چې د شپې لخوا ایت الکرسي تلاوت کړي، د الله تعالی له طرفه به د هغه لپاره ساتونکی وي او تر سهاره پورې به هیڅ شیطان ورته نه نږدې کیږي).

همدارنګه له هغه – **صلی الله علیه وسلم**- څخه روایت دی چې فرمایي:

(من قرأ الآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه)،

(ځوک چې د بقرې سورت په پای کې دوه آیتونه د شپې لخوا تلاوت کړي، د هغه لپاره به کافي وي)،

او معنا یې داده بیا هم الله ښه پوهیږي: د هر ډول شر له مخنیوي ځخه به ورته بسنه وکړي، او د هغې له جملې ځخه د شپې او ورځې لخوا او کله چې په کور، ودانۍ، دښته، فضا، سمندر کې میشت کیږي، الله -تعالی- باندې - د هغه - په بشپړو کلمو سره پناه یوسي، د رسول الله -**صلی الله علیه وسلم**- ددې خبرې پر بنیاد چې فرمایي:

(من نزل منزلاً فقال: أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق لم يضره شيء حتى يرتحل منزله ذلك)،

(ځوک چې په یو کور کې میشت شي او بیا ووایي: (أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق ) زه د الله په بشپړو کلمو سره د هر هغه ځه له شر ځخه پناه نیسم چې هغه پیدا کړي دي، هیڅ شی به هغه ته ضرر ونه رسوي ترڅو چې له دغه کور ځخه یې کډه نه وي کړې)

او د هغې له جملې ځخه دا دی چې یو مسلمان د ورځې او شپې په پیل کې درې ځلې ووایي:

(بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم)

(د هغه الله په نوم چې ضرر نشي رسولی د هغه له نوم سره هیڅ یو شی پر ځمکه او نه په آسمان کې او هغه اوریدونکی او ښه پوه دی)

دې کار ته د رسول الله -**صلی الله علیه وسلم**- د هڅونې له امله او دا چې دا عمل له هر ډول شر ځخه د خوندیتوب سبب دی.

دغه اذکار او معوذات د هغه چا لپاره د جادو او نورو بدیو ځخه د مخنیوي ترټولو لویه وسیله ده چې په اخلاص، ایمان، په الله باندې باور، توکل او اعتماد له مخې یې په دوامداره توګه ووایي او هغه ځه ته د سینې پراخوالی چې - دا اذکار پرې - دلالت کوي او همدارنګه دا د جادو له پیښیدو وروسته د لرې کوولو له سترو اسلحو ځخه ده، وروسته له دې چې الله -جل جلاله- ته ډېره عاجزي، تضرع وشي او غوښتنه وکړي چې ضرر او ستونزه ورځخه لرې کړي.

د جادو او نورو ناروغيو په درملنه کې له هغه – **صلى الله عليه وسلم**- څخه ثابت شوي دعاګانې – په کومو سره يې چې خپل صحابه دمول :

(اللهم رب الناس أذهب البأس واشف أنت الشافي لا شفاء إلا شفاؤك شفاء لا يغادر سقماً)

(اې د خلکو ربه، دردونه لرې کړه او شفا ورکړه، ته شفا ورکوونکی يې، ستا له شفا پرته بله شفا نشته، داسې شفا چې ناروغي نه پرېږدي)

درې ځلې يې وايې.

او له هغې جملې څخه هغه دم او دعا ده چې جبرائيل -عليه السلام- ورباندې پيغمبر – **صلى الله عليه وسلم**- دم کړ، هغه يې دا وينا ده:

(بسم الله أرقيك من كل شيء يؤذيك ومن شر كل نفس أو عين حاسد الله يشفيك بسم الله أرقيك)

(د الله په نوم، زه تا دموم، د هر هغه څه څخه چې تا ته زيان رسوي، او د هر نفس د شر او يا د کينه کوونکي د سترګو له شر څخه، الله دې تا ته شفا درکړي، د الله په نوم زه تا دموم).

(دا کار دې درې ځلې تکرار کړي)

او همدارنګه د سحر له کېدلو وروسته د درملنې لپاره - په ځانګړې توګه - د هغه سړي لپاره ګټوره درملنه ده، چې د خپلې ميرمنې سره له جماع څخه بند شوی وي، چې د شنې بېرې اووه پاڼې واخستل شي، په ډبره يا داسې بل کوم څيز باندې وټکول شي بيا په يوه لوښي کې واچول شي، او بيا ورسره دومره اوبه ګډې شي چې د غسل کولو لپاره بسنه کوي او دا پرې ولولي:

آيت الكرسي

او

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَـٰفِرُونَ ١﴾[الكافرون: 1]

**[(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: اى كافرانو!] [سورة الكافرون، الآية: 1]،**

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾[الإخلاص: 1]

**[(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: شان دا دى چى الله يو دى] [سورة الإخلاص، الآية: 1]،**

او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾[الفلق: 1]

**[(اى نبي) ته ووايه: زه په رب د سبا پورې پناه نيسم] [سورة الفلق، الآية: 1]**، او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾[الناس: 1]

**[(اى نبي) ته ووايه: زه د خلقو په رب پورې پناه نيسم] [سورة الناس، الآية: 1]،**

او د سحر آيتونه چې په سورت الاعراف کې دي، چې هغه د الله –سبحانه و تعالى- دغه وينا ده:

﴿۞ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١١٨ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ١١٩﴾[الأعراف: 117-119]

**(او مونږ موسىٰ ته وحې وکړه چې خپله امسا وغورځوه، نو ناڅاپه هغې هغه څه ښوى تېرول چې هغوى به جوړول. نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شول چې هغوى به کول. نو هغه ساحران په دغه ځاى کې مغلوب شول او دوى ذليله سپك وګرځېدل).[سورة الأعراف، الآيات: 117-119]،**

او هغه آيتونه چې په يونس او طه سورتونو کې دي او هغه د الله – سبحانه و تعالى- دغه وينا ده:

﴿وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ۝٧٩ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ۝٨٠ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ۝٨١ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ۝٨٢﴾[يونس: 79-82]

**(او فرعون وويل: تاسو ما ته هر ښه پوه (ماهر)جادوګر راولئ. نو کله چې جادوګر راغلل، موسىٰ دوى ته وويل: وغورځوئ هغه څه چې تاسو يې غورځوونکي يئ. پس کله چې دوى (امساګانې او پړي) وغورځول، موسىٰ وويل: هغه څه چې تاسو راوړي دي، واقعي جادو دى، بېشکه الله به يې ژر تباه (بې اثره) کړي، بېشکه الله د فساد کوونکو کار نه جوړوي. او الله په خپلو کَلِمو سره حق ثابتوي اګر که مجرمان يې بد ګڼي). (ده وويل: اى موسىٰ! يا به ته (امسا) غورځوې، يا به مونږ شو اول د هغه چا چې (امسا) غورځوي. ده وويل: بلکې تاسو وغورځوئ، نو ناڅاپه د دوى رسۍ او د دوى امساګانې د دوى د سحر په وجه د ده (موسىٰ) خيال ته داسې راوستى شوې چې په رښتيا دغه منډې وهي. نو موسىٰ په خپل نفس (زړه) کې وېره ومونده. مونږ (ده ته) وويل: ته مه وېرېږه، بېشکه هم ته ښه غالب يې. او ته هغه (امسا) وغورځوه چې ستا په ښي لاس کې ده، چې هغه څه لواړ (ښوى) تېر کړي چې دغو جوړ کړي دي، بېشکه هغه شى چې دوى تيار کړى دى د جادوګر چَل مکر دى، او جادوګر برى نه مومي هر چېرته چې راشي) [سورة يونس، الآيات: 79-82]،**

او په سورت طه کې:

﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ۝٦٥ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ۝٦٦ فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ۝٦٧ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡأَعۡلَىٰ۝٦٨ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ۝٦٩﴾[طه: 65-69].

او هغه څه چې په اوبو کې تلاوت شول له لوستلو وروسته دې درې غړپه اوبه وڅښي او په پاتې نورو سره دې غسل وکړي، نو په همدې سره به ان شاءالله مرض له منځه ولاړ شي، او که دوه ځلې یا زیات استعمال ته اړتیا پیدا شي نو تر هغه وخته پورې چې ناروغي له منځه لاړه شي هیڅ حرج نشته چې دغه کار تکرار کړي.

همدارنګه د سحر د علاجونو څخه - او دا یو له خورا ګټورو علاجونو څخه دی - چې هڅه وشي په ځمکه، غره او یا ورته ځایونو کې د سحر ځای معلوم کړي، نو کله یې چې ځای معلوم شي او را وویستل شي سحر له منځه ځي.

دا هغه څه وو چې د سحر د مخنیوي او د هغې د درملنې لپاره وړاندې شول او الله توفیق ورکونکی دی.

لیکن د جادو درملنه په سحر سره چې د ذبحې یا نورو عبادتونو په واسطه پیریانو ته نږدې کېدل دي، دا جواز نلري؛ ځکه چې دا د شیطان له کارونو څخه دی، بلکې د لوی شرک څخه دي.

دا اړینه ده چې په دې اړه احتیاط وشي، او دا هم جواز نلري چې له کاهنانو، د غیبو دعوا لرونکي، او کوډګرو څخه پوښتنه وشي، او هغه څه ترسره کول چې دوی یې وایي، ځکه چې دوی ایمان نه لري، ځکه چې دوی ښکاره درواغجن دي چې د غیبو د پوهې ادعا کوي او خلک مغشوشوي او دوکې ورکوي او رسول الله -صلی الله علیه وسلم- دوی ته د ورتګ څخه، او د هغوی څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د تصدیق کولو څخه خبرداری ورکړی، لکه څرنګه چې د دې لیکنې په پیل کې بیان شول.

(دا د شیطان کار دی)

او له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه په صحیح ډول روایت دی چې له هغه څخه د النشرة په اړه پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل:

( دا د شیطان کار دی). امام احمد او ابوداود په ښه سند سره روایت کړی دی.

او النشرة د سحر (جادو) شوي کس خلاصون د سحر (جادو) څخه دی. او د هغه مطلب د دې خبرې څخه دا دی چې: هغه سحر (جادو) چې له جاهلیت څخه مخکې خلکو کارول، هغه داو چې: له جادوګر څخه یې د جادو د خلاصولو غوښتنه کیدله، او یا د سحر خلاصول په بل سحر باندې د بل کوډګر لخوا.

لیکن د سحر (جادو) خلاصول په دم، شرعي معوذاتو او مباحو درملو سره که ترسره شي نو هیڅ حرج او ستونزه نشته.

او دغه وینا علامه ابن القیم، او شیخ عبدالرحمن بن حسن – رحمهما الله- په فتح المجید کې کړې ده، او نورو علماوو هم دا خبره کړې ده.

او له الله تعالی ته سوال کوو چې مسلمانانو ته له هر ډول شر څخه عافیت نصیب کړي، او د دوی لپاره د دوی د دین ساتنه وکړي، او دوی ته په دین کې پوهه ورکړي، او له هر هغه څه څخه چې د هغه د شریعت سره په ټکر کې وي هغوی ته دې معافیت او ژغورنه ورکړي. **وصلی الله وسلم علی عبده ورسوله محمد وعلی آله وصحبه**.

# پرخاوندباندېدښځېسحر( جادو)

[دغه ځواب د شیخ ابن باز د دفتر له خوا په ۹/ ۱۱/ ۱۳۸۷ هـ ق صادر شوی دی «مجموع فتاوی ومقالات متنوعة» د ابن باز (4/ 431-432)]

د عبدالعزیز بن عبدالله بن باز لخوا، قدرمن ورور ... ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته اما بعد:

ما ستاسو لیک په تاریخ (پرته له تاریخ) ترلاسه کړ او الله دې تاسو ته هدایت وکړي، او تاسو په لیک کې پدې اړه یادونه کړې وه چې تاسو ورسره د خپلې نوې مېرمنې سره د کوروالي پر مهال مخ شوي یاست، او شیخ ته ستا د تللو په اړه او هغه څه چې هغه تاسو ته ویلي دي او هغه کړنې چې ستا لومړۍ مېرمنې ترسره کړي دي او له امله یې تاسو خپلې نوې مېرمنې سره کوروالی (جماع) نه شئ کولای، او پدې اړه مو د حکم پوښتنه وه .

ځواب: که پخوانۍ مېرمنې په دې کړنې باندې اقرار کړی وي، او خبره ثابته شي چې هغې دا کار په ثبوت ترسره کړې ده، نو واقعاً هغې یوه لویه ناوړه، بلکې کفر او د ګمراهۍ کړنه ترسره کړېده؛ ځکه چې د هغې دغه کړنه حرام سحر دی، او ساحر (جادوګر) کافر دی لکه څرنګه چې الله –تعالی- فرمایلي دي:

﴿وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ١٠٢﴾[البقرة: 102]

**(او دوی د هغه څه تابع شول چې د سلیمان په بادشاهۍ کې شیطانانو لوستل، او سلیمان کفر نه و کړی او لېکن شیطانان کافر شوي وو، خلقو ته به یې جادو (سحر) ښوده او (دوی تابع شول) د هغه څه چې په بابل**

**ښار کې په دوه ملایکو هاروت او ماروت نازل کړی شوی و او دغو دواړو به هیڅوا ته ښودنه نه کوله، مګر چې ویل به یې: اصل خبره دا ده چې مونږ یَوْ ازمېښت یو، نو ته مه کافر کېږه، نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره به یې د سړي او د هغه د ښځې په مینځ کې جدایي راوستله، او په دې (جادو) سره دوی هیڅوا ته هم ضرر نه شو رسولی مګر د الله په حکم سره، او دوی به هغه څه زده کول چې دوی ته به یې ضرر رساوه او فایده به یې ورته نه رسوله او یقینًا یقینًا دوی په دې پوه وو چې چا دا (سحر) واخیسته، نو د هغه لپاره په اخرت (جنت) کې هېڅ برخه نشته، او یقینًا بد دی هغه څیز چې د هغه په بدل کې دوی خپل ځانونه خرڅ کړل، که چېرې دوی پوهېدلی). [سورة البقرة، الآیة: 102]،**

نو دغه آیت په دې باندې دلالت کوي چې سحر (جادو) کفر دی، او جادوګر کافر دی، او دا چې جادوګران هغه څه زده کوي چې دوی ته ضرر رسوي او ګټه نه رسوي، او دا چې د دوی هدف دا دی چې یو سړی له خپلې میرمنې څخه جلا کړي، او دا چې دوی د قیامت په ورځ د الله په نیز هیڅ برخه او نصیب نلري - یعنې د خلاصون چانس نه لري - او په صحیح حدیث کې د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له قوله راغلي:

(واجتنبوا السبع الموبقات) قیل: وما هن یا رسول الله؟ قال: (الشرك بالله، والسحر، وقتل النفس التي حرّم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال الیتم، والتولي یوم الزحف، وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات).

(او له اوو بربادوونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ) وویل شو: هغه څه دي، اې د الله رسوله؟ هغه وفرمایل: (له الله سره شرک کول، جادو، د هغه نفس وژل چې الله حرام کړی وي مګر په حقه سره، سود خوړل، د یتیم مال خوړل، د جنګ په ورځ مخ ګرځول، او په پاک لمنو، ناخبرو او مؤمنو ښځو تهمت پورې کول).

او هغه شیخ چې تا ته یې دوا درکړې، داسې ښکاري چې هغه د ښځې په څیر جادوګر دی، ځکه چې یوازې جادوګران په جادو پوهیږي، او هغه هم یو د غیبو د ادعا کوونکو او مشهورو کاهنانو څخه دی چې په ډېرو چارو کې د غیب ادعا کوي، نو پر مسلمان واجب دي چې له دوی څخه ځان وساتي او په هغه څه باور ونکړي چې دوی یې د غیبو ادعا کوي، ځکه چې رسول الله فرمایلي دي:

(من أتى عرافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين ليلة)

(څوک چې کاهن ته لاړ شي او د هغه څخه د يو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلويښتو شپو لمونځ يې نه قبليږي)

مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی دی، او دا يې هم ويلي دي:

(من أتى عرافاً أو كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد )

(څوک چې فال ويونکي يا غيب ويونکي ته لاړ شي او په هغه څه يې باور وکړي چې هغه يې وايي دغه کس په هغه څه کافر شو چې پر محمد باندې نازل شوی دی).

نو ته بايد په هغه څه باندې پښيمانه شې او توبه اوباسي چې تا کړي دي، او د کميسيون رئيس او د محکمې رئيس ته د ياد شوي شيخ او ستا د زړې مېرمني په اړه خبر ورکړئ، تر څو محکمه او کميسون هغه څه وکړي چې د دوی مخه ونيسي، او که داسې کومه پېښه درسره وشي، نو له ديني علماوو څخه پوښتنه وکړه، ترڅو هغوی تاسو ته د شرعي علاج په اړه معلومات درکړي.

الله دې موږ او تاسو ته په دين کې پوهه او ثبات نصيب کړي او د هغه څه څخه مو دې خوندي کړي چې د هغه خلاف وي، بېشکه چې هغه سخي او کريم ذات دی.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

# دساحرانواوجادوګرانوڅخهپوښتنهکول

[دا پوښتني او ځوابونه د: (نور على الدرب) له پروګرام څخه دي - "مجموع فتاوى ومقالات متنوعة" د ابن باز (5/ 276-278)]

پوښتنه: ورور: ص. ع ب. له رياض څخه په خپله پوښتنه کې وايي: د يمن په ځينو سيمو کې داسې خلک شته چې د "سادات" ورته وايي او دا خلک له دين سره مخالف کارونه ترسره کوي، لکه کوډې او داسې نور، او ادعا کوي چې د لاعلاج ناروغيو څخه د شفاء ورکولو توان لري، او ددې ادعا ثابتولو لپاره ځانونه په خنجر وهي يا ژبه پرې کوي او بيا يې له هيڅ کوم زيان پرته بيرته مخکيني حالت ته راګرځوي، او ددوی څخه ځينې يې لمونځ کوي او ځينې يې لمونځ نه کوي.

او دوی د ځان لپاره روا ګڼي چې د خپل نسل پرته بل چا سره واده وکړي، ليکن نورو لپاره جواز نه ورکوي چې ددوي سره واده وکړي، او کله چې دوی د ناروغ لپاره دعا کوي، نو دوی وايي: (اې الله، اې فلان) د دوی له نيکونو څخه يو يادوي.

په پخوانيو وختونو کې خلکو دوی ته احترام درلود او دوی يې غير معمولي خلک ګڼل او دا چې دوی الله ته نږدې خلک دي، آن تر دې چې دوی به يې د الله سرې بلل، مګر اوس خلک د دوی په اړه ويشل شوي دي، ځينې د دوی مخالف دي چې هغوی ځوانان او ځينې لوستي خلک دي، او ځينې لا هم په دوی پورې تړلي دي، او هغوی د لويو عمرونو خاوندان او نا لوستي دي. موږ له تاسو څخه غوښتنه کوو چې پدې مسئله کې حقيقت روښانه کړئ.

ځواب: دا او د دوی په څېر کسان د صوفيانو له ډلې څخه دي، چې دوی لره نا سمې او باطلې کړنې ترسره کوي او دوی هم د کاهنانو (غيب ويونکو) له ډلې څخه شميرل کيږي چې رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- د دوی په اړه فرمايلي دي:

(من أتى عرافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين يوماً)،

(څوک چې کاهن ته لاړ شي او له هغه څخه د يو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلويښتو ورځو لمونځ يې نه قبليږي)

دا ځکه چې دوی د غيبو د علم دعوا کوي، د پيريانو خدمت کوي، د هغوی عبادت کوي، او خلک د مختلفو سحرونو له لارې ګمراه کوي، کوم چې الله – تعالى- د موسى او فرعون په کيسه کې ويلي دي:

﴿قَالَ أَلْقُواْ فَلَمَّآ أَلْقَوْاْ سَحَرُوٓاْ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾﴾[الأعراف: 116]

**(ويې ويل: تاسو يې وغورځوئ، نو کله چې هغوی وغورځولې (، نو) د خلقو پر سترګو يې جادو وکړ او هغوی يې ښه ووېرول او ډېر لوی جادو يې وکړ) [سورة الأعراف، الآية: 116]،**

نو ددې حديث لمخې دوی ته تلل او له هغوی څخه پوښتنه کول جواز نلري:

(من أتى كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد )،

(څوک چې يو کاهن ته لاړ شي او په هغه څه رښتيا وګڼي چې هغه يې وايې نو پر هغه څه کافر شو چې په محمد باندې نازل شوی دی)

او په بل عبارت :

(من أتى عرافاً أو كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد )

(څوک چې فال ويونکي يا کاهن ته لاړ شي او په هغه څه يې باور وکړي چې هغه يې وايي، دغه کس پر هغه څه کفر کړی چې پر محمد نازل شوی دی).

او له الله پرته د بل چا رابلل او له الله پرته له بل چا څخه د مرستې غوښتنه، يا د دوی دا ادعا چې د دوی پلرونه او مخکني خلک په کائناتو کې تصرف کوي، يا د ناروغانو درملنه کوي، يا د مړينې يا غيبت څخه وروسته هم د دوی بلنه مني، نو دا ټول په الله – تعالى- باندې کفر کول دي او له لوی شرک څخه دي،

نو د دوی دغه کړنې بايد وغندل شي، او دوی ته تلل او له هغوی څخه د هيڅ څيز پوښتنه ونشي،او همدارنګه د هغوی خبرو باندې باور ونشي، ځکه چې په دې کارونو کې دوی د کاهنانو او فال ويونکو کړنې او د مشرکانو او د هغو کسانو کړنې چې له الله پرته د نورو عبادت کوي او له هغوی مرسته غواړي سره يو ځای کوي، هغه که پيريان وي، مړي وي او يا نور هغه کسان چې دوی ته منسوب وي، او همدارنګه دوی ګمان کوي چې هغوی زمونږ پلرونه او مشران دي، او يا هغه خلک چې دوی ګمان کوي د هغوی پر دوی باندې ولايت (سرپرستي) او يا کرامت شته، مګر حقيقت دا دی چې دا ټول د

جادو او فال ویونکو او د وړاند وینو ادعا کوونکي دی چې په سپیڅلي شریعت کې رد شوي دي.

لیکن کومې کړنې چې له دوی څخه صادریږي لکه د خنجر وهل او د ژبې پرې کول، دا ټول د خلکو لپاره یوه صحنه سازي او خیالي کړنې دي، او دا ټول د حرام سحر له ډولونو څخه دي چې قرآنی نصوصو او سنتو حرامي ګڼلي دي، لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه، له دغو کړنو څخه باید خبرداری ورکړ شي او بند شي، نو هوښیاران باید په دې کړنو باندې دوکه نشي، او دا د فرعون د جادوګرانو په اړه د الله – سبحانه و تعالی- قول دی چې فرمایلي یې دي:

﴿قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ٦٦﴾[طه: 66]

**(د (موسٰی) خیال ته داسې راوستی شوې چې په رښتیا دغه منډې وهي) [سورة طه، الآیة: 66]،**

نو دغو خلکو د سحر، کوډګرۍ، غیب ویلو، فال ویلو او د لوی شرک او له الله پرته له بل چا څخه د مرستې غوښتلو او د غیبو د علم د دعوا او د کائناتو پر علم پوهې او هغې کې د تصرف کولو تر منځه سره یو ځای کړل، او دا د لوی شرک، ښکاره کفر او د جادوګرۍ مختلف ډولونه دي چې الله تعالی حرام کړي دي، او دا د غیبو د علم دعوا ده چې یوازې الله پرې پوهیږي، لکه څنګه چې الله – سبحانه و تعالی- فرمایي:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ٦٥﴾[النمل: 65]

**(ته (دوی ته) ووایه: هر هغه څوك چې په آسمانونو او ځمکه کې دي په غیبو نه پوهیږي غیر له الله نه). [سورة النمل، الآیة: 65]،**

نو له مسلمانانو څخه چې څوک د دوی په حال پوهیږي پرې واجب دي چې د دوی کړنې وغندي او ناوړه چلند یې بیان کړي چې دغه کړنې ناوړه دي، او باید چې په اسلامي هېوادنو کې یې قضیه چارواکو ته پورته کړای شي، تر څو دوی ته د شریعت له مخې سزا ورکړي او د شر مخه یې ونیسي او مسلمانان د دوی له دروغو او دوکو څخه وژغورل شي.

الله د توفیق ورکوونې څښتن دی.

# هغه ولسیدا کتر بانده در ملنه کول چې پیر یانکار وي

[د ابن باز «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة» (5/ 418-420)]

پوښتنه : يوه ډله خلک دي چې د دوی په وينا په ولسي طبابت سره درملنه کوي، او کله چې له دوی څخه يو ته ورغلم نو راته يې وويل: خپل نوم او دمور نوم دې وليکه او بيا سبا ته راشه، او کله چې سبا ورته څوک مراجعه وکړي نو ورته وايي چې: ته دا دا مشکل لرې او ستا درملنه داسې او داسې ده.. او يو يې وايي: هغه د درملنې لپاره د الله کلام کاروي، نو تاسو د داسې خلکو په اړه څه فکر کوئ؟ دوی ته د تګ حکم څه دی؟ س. ع. غ. حائل.

ځواب: څوک چې په خپل علاج کې دا ډول کړنې ترسره کوي دا په دې باندې دلالت کوي چې هغه له پيريانو څخه کار اخلي او بيا د غيب د علم دعوا کوي، نو پر دې ډول خلکو باندې درملنه جواز نلري، او همدارنګه دوی ته تلل يا د هغوی څخه پوښتنه کول جواز نه لري؛ دليل يې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- دا وينا ده:

(من أتى عرافاً فسأله عن شيء لم تقبل له صلاة أربعين ليلة)

(څوک چې غيب ويونکي ته لاړ شي او له هغه څخه د يو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلويښتو شپو لمونځ يې نه قبليږي)

مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی دی.

او له هغه څخه په څو احاديثو کې ثابت دي چې کاهنانو، فال ويونکو او جادوګرانو ته ورتګ منع دی او له هغوی څخه پوښتنه کول او د هغوی په خبرو باندې باور کول منع دي، او فرمايي:

(من أتى كاهناً فصدقه بما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد )،

(څوک چې فايل ويونکي يا کاهن ته لاړ شي او په هغه څه يې باور وکړي چې هغه يې وايي، دغه کس پر هغه څه کفر کړی چې پر محمد نازل شوی دی).

او هر هغه څوک چې د ډبرو په وهلو او يا د کونجکو په کارولو، يا په مځکه کې کرښې ويستلو، يا د ناروغ څخه د هغه د نوم او د هغه د مور او يا د هغه د خپلوانو د نومونو په اړه پوښتنې کولو سره - درملنه کوي - ټول پدې دلالت کوي چې هغه يو له

کاهنانو او فال ویونکو څخه دی چې پیغمبر -**صلی الله علیه وسلم**- له هغوی څخه د پوښتنې کولو او پرې باور کولو څخه منع کړې ده.

له هغوی څخه د پوښتنې کولو او د هغوی په واسطه له درملنې کولو څخه باید ځان وساتل شي، که څه هم دوی ادعا وکړي چې هغوی د قرآن په واسطه علاج کوي، ځکه چې دوکه ورکول او تېرویستل د باطلو خلکو عادت دی، نو د هغوی په خبره باور کول جواز نلري، او هغه څوک چې دوی پېژني د هغه مسؤولیت دی چې ددوی قضیه واکمنانو، قاضیانو، آمرینو، او د امر بالمعروف مراکزو ته وړاندې کړي ترڅو د الله له فیصلې سره برابر حکم وکړي، او تر څو مسلمانان د دوی له شر او فساد څخه وساتل شي او د دوی لخوا په ناحقه د خلکو د مال خوړلو څخه مخنیوی وشي.

الله مرسته کوونکی دی او له الله پرته بل هیڅ ځواک او قدرت نشته.

# دجادوشرعيدرمل

[د نور على الدرب د پروګرام څخه، کيسټ: 53 - «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة» د ابن باز (6/ 288-290)]

پوښتنه : ما له يو عالم څخه اوريدلي دي چې ويل يې څوک چې ګمان کوي چې پر ده باندي جادو کړى شوى دى، نو د بېرې اووه پاڼې واخلي بيا يې د اوبو په سټل کې واچوي او دغه سورتونه پرې تلاوت کړي:

معوذات

آيت الكرسي، او سورت:

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١﴾[الكافرون: 1]

**[(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: اى كافرانو!]**

او د هغه – سبحانه و تعالى- دغه قول:

﴿...وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ ...﴾[البقرة: 102]

**(او هغه څه چې په بابل ښار کې په دوه ملايكو هاروت او ماروت نازل كړى شوي دي) [سورة البقرة، الآية: 102]،**

او د فاتحې سورت، نو د دې کار صحت او اعتبار څه دى او څوک چې فکر کوي هغه باندې جادو شوى دى څه بايد دې وکړي؟ مونږ پوه كړئ، الله دې تاسو ته پوهه دركړي.

ځواب: په دې کې شک نشته چې جادو شتون لري او ځينې يې خيالي او افسانوي دي او دا چې هغه د الله تعالى په اجازه واقع کيږي او اغيزه کوي لکه څرنګه چې الله تعالى د جادوګرو په اړه فرمايلي دي:

﴿وَٱتَّبَعُواْ مَا تَتۡلُواْ ٱلشَّيَٰطِينُ عَلَىٰ مُلۡكِ سُلَيۡمَٰنَۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ ...﴾[البقرة: 102]

**(او دوی د هغه څه تابع شول چې د سلیمان په بادشاهۍ کې شیطانانو لوستل او سلیمان کفر نه و کړی او لېکن شیطانان کافر شوي وو، خلقو ته به یې جادو (سحر) ښوده او (دوی تابع شول) د هغه څه چې په بابل ښار کې په دوه ملایکو هاروت او ماروت نازل کړی شوي و او دغو دواړو به هېڅ‌چا ته ښودنه نه کوله).**

یعني: دوه پرېښتې

﴿... حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَ زَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ... ﴾[البقرة: 102]

**(مګر چې ویل به یې: اصل خبره دا ده چې مونږ يَوْ ازمېښت یو، نو ته مه کافر کېږه، نو هغوی به له دغو دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره به یې د سړي او د هغه د ښځې په مینځ کې جدایي راوستله، او په دې (جادو) سره دوی هیچا ته هم ضرر نه شو رسولی مګر د الله په حکم سره). [سورة البقرة، الآية: 102].**

نو جادو اثر لري، مګر د الله په کائناتي او قدري اجازې سره، ځکه چې د الله –تعالی- له حکم او فرمان پرته هیڅ شی شتون نلري، خو دا جادو علاج او درمل لري، او پر پېغمبر -صلی الله علیه وسلم- باندې هم جادو شوی و، بیا الله له جادو څخه خلاص کړ او د هغه له شر څخه یې وژغوره، او هغه څه چې جادوګر کړي وو، هغه یې وموندل او هغه یې له منځه یوړل، بیا الله خپل پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- له جادو څخه روغ کړ،

نو همدارنګه که جادوګر د تارونو په غوټه کولو یا میخونو د یو بل سره تړلو او یا بل څه په اړه څه کړي وي، دا ټول باید له منځه یوړل شي، ځکه چې جادوګران د خپلو نا پاکو ارادو لپاره په غوټو کې پوکي کوي او هغو باندې ګوزارونه کوي، ممکن د الله په اراده د هغوی کار ترسره شي او یا باطل شي، نو زموږ رب –سبحانه و تعالی- په هر څه قادر دی.

او ځینې وختونه د جادو درملنه په تلاوت سره کیږي، که هغه په خپله د جادو شوي کس په تلاوت سره وي، که عقل یې پرځای وي،

او ځینې وختونه د نورو په تلاوت سره، او بیا یې په سینه او یا په بل کوم یو غړي کې پو کړي او پر هغه دې دا تلاوت کړي:

د فاتحې سورت، ایت الکرسي، قل هو الله أحد، معوذتین ( الفلق او الناس سورتونه)، د جادو مشهور آیتونه د سورت اعراف، سورت یونس او سورت طه څخه، او د سورت اعراف څخه د الله - تعالی- دا قول:

﴿ ۞ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ١١٨ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ١١٩ ﴾[الأعراف: 117-119]

**(او مونږ موسٰی ته وحي وکړه چې خپله امسا وغورځوه، نو ناڅاپه هغې هغه څه بڼوی تېرول چې هغوی به جوړول. نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شول چې هغوی به کول. نو هغه ساحران په دغه ځای کې مغلوب شول او دوی ذلیله سپك وګرځېدل).**

او د یونس سورت څخه د هغه – سبحانه و تعالی- دا قول:

﴿وَ قَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ۝٧٩ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ۝٨٠ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ۝٨١ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ۝٨٢﴾[یونس: 79-82]

**(او فرعون وویل: تاسو ما ته هر ښه پوه (ماهر)جادوګر راولئ. نو کله چې جادوګر راغلل، موسٰی دوی ته وویل: وغورځوئ هغه څه چې تاسو یې غورځوونکي یئ. پس کله چې دوی (امساګانې او پړي) وغورځول، موسٰی وویل: هغه څه چې تاسو راوړي دي، واقعي جادو دی، بېشکه الله به یې ژر تباه (بې اثره) کړي، بېشکه الله د فساد کوونکو کار نه جوړوي او الله په خپلو کَلِمو سره حق ثابتوي اګر که مجرمان یې بد ګڼي). [سورة یونس، الآیات: 79-82]،**

او د طه سورت څخه د هغه –سبحانه و تعالی- دغه قول:

﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ٦٥ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ٦٦ فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ٦٧ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٦٨ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ٦٩﴾ [سورة طه الآيات: 65،69]◉

**(ده وویل: ای موسیٰ! یا به ته (امسا) غورځوې، یا به مونږ شو اول د هغه چا چې (امسا) غورځوي. ده وویل: بلکې تاسو وغورځوئ، نو ناڅاپه د دوی رسۍ او د دوی امساګانې د دوی د سحر په وجه د ده (موسیٰ) خیال ته داسې راوستی شوې چې په رښتیا دغه منډې وهي. نو موسیٰ په خپل نفس (زړه) کې وېره وموندله. مونږ (ده ته) وویل: ته مه وېرېږه، بېشکه هم ته ښه غالب یې. او ته هغه (امسا) وغورځوه چې ستا په ښي لاس کې ده، چې هغه څه لوارږ (ښوېه) تېر کړي چې دغو جوړ کړي دي، بېشکه هغه شی چې دوی تیار کړی دی د جادوګر چل مکر دی، او جادوګر بری نه مومي هر چېرته چې راشي). [سورة طه الآيات: 65،69]،**

او همدارنګه دغه سورتونه دې تلاوت شي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١﴾[الكافرون: 1]

**[(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: ای کافرانو!]**

او : ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ سورت ،

**[(ای نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی]،**

او ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ﴾

**[(ای نبي) ته ووایه: زه په رب د سبا پورې پناه نیسم]**

تر آخره پورې،

او ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾،

**[(ای نبي) ته ووایه: زه د خلقو په رب پورې پناه نیسم]**

او غوره دا ده چې د قل هو الله احد او د معوذتین سورتونه درې ځلې تکرار شي، بیا دې ورته د روغتیا دعا وکړي:

(اللهم رب الناس أذهب البأس وأشف أنت الشافي لا شفاء إلا شفاؤك شفاءً لا يغادر سقماً)

(اې د خلکو ربه، درد لرې کړه او شفا ورکړه، ته شفا ورکوونکی یې، هیڅ شفا نشته پرته ستا له شفا څخه، داسې شفا چې ناروغي نه پرېږدي، او دا درې ځلې تکرار شي).

او په دې توګه دې هغه پدې سره دم کړي:

(بسم الله أرقيك من كل شيء يؤذيك ومن شر كل نفس أو عين حاسد الله يشفيك بسم الله أرقيك)

(د الله په نوم، زه تا دموم د هر هغه څه څخه چې تا ته زیان رسوي، او د هر حسد کوونکي نفس او سترګې څخه، الله دې تا ته شفا درکړي او د الله په نوم باندې تا دموم)

او دا دې درې ځلې تکرار کړي او بیا دې د هغه لپاره د شفا او روغتیا دعا وکړي.

او که په خپل دم کې دا هم ووایي:

(أعيذك بكلمات الله التامات من شر ما خلق )

(زه د الله په بشپړو کلمو سره د هغه څه له شر څخه ستا لپاره پناه غواړم چې هغه پیدا کړي دي)

درې ځلې یې تکرار کړي، نو دا به ښه وي.

دا ټول له ګټورو درملو څخه دي، او که دا دم او دعا په اوبو ووایي، بیا یې وڅښي او په پاتې نورو سره غسل وکړي، نو دا د الله په ارادې سره د شفاء او روغتیا له اسبابو څخه دي، او که د شنو بیرو اووه پاڼي له ټکولو وروسته په اوبو کې واچوي دا هم د شفاء له اسبابو څخه دي.

دغه طريقې ډيرې کارول شوي دي او الله په هغې سره ګټه رسولې ده، او مونږ له ډيرو خلکو سره دغه طريقه کارولې ده او الله هغې سره هغوی ته ګټه رسولې ده، نو دا د جادو شويو خلکو لپاره مفيد او ګټور درمل دي، او همدارنګه دغه درمل د هغه چا لپاره هم ګټور دي چې د خپلې ميرمنې څخه بند شوی وي، ځکه ځنې خلک له خپلې ميرمنې څخه حبس شوي وي او له هغې سره کوروالی (جماع) نشي کولای، که دغه دم او دعا استعمال کړي نو د الله په حکم سره به ورته ګټه ورسوي، برابره خبره ده که په خپله يې وواييې يا بل څوک يې پرې ولولي او يا يې ورته په اوبو ولولي بيا يې وڅښي او په پاتې اوبو سره غسل وکړي - دا ټول د جادو شويو او د هغه چا لپاره ګټور دي چې له خپلې ميرمنې څخه حبس شوي وي،

دا له اسبابو څخه دي، مګر شفا ورکونکی يوازې الله – سبحانه و تعالی- دی، او هغه په هر څه قادر دی، ناروغي او درمل د هغه – جل و علا- په لاس کې دي، او هر څه د هغه –سبحانه و تعالی- د فيصلې او تقدير پر اساس کيږي.

په صحيح روايت کې راغلي دي چې رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- وفرمايل:

(ما أنزل الله داء إلا أنزل له شفاء علمه من علمه وجهله من جهله).

(الله جل جلاله کومه ناروغي نده نازل کړې مګر دا چې د هغې لپاره يې شفاء نازل کړې ده، چا چې وپيژندله نو پيژندلې به يې وي او چا چې ونه پيژندله نو نه به يې وي پيژندلې).

او دا د هغه – سبحانه و تعالی- له طرفه فضل دی، او الله د سمې لارې توفيق ورکونکی او لارښود دی.

# دانسانبدنتهدپيريدننوتلودحقيقتروښانهكولاوهغهچاباندېرد كولچېلدېڅخهانكاركوي

[ شيخ علي الطنطاوي ته په ۱۴۰۸/۱۱/۳هـ ق کې لیږدول شوی ځواب - د ابن باز «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة» (۲۹۹/۳-۳۰۸) څخه]

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهداه.

اما بعد.. د همدې کال د شعبان په میاشت کې ځینو محلي ورځپاڼو او نورو زما مطلب په ۱۴۰۷ هجري قمري کال خپور، لندې او اوږدې خبرې خپرې شوي دي چې ځينو پيريانو خپل اسلام په رياض کې اعلان کړ -کله چې په رياض کې د ځينو مسلمانو ښځو په ځيرو کې ښکاره شوي وو- وروسته له هغه چې په رياض کې اوسيدونکي ورور عبدالله بن مشرف العمري ته يې دا اعلان وکړ، وروسته لدې چې نوموړي په ناروغ باندې تلاوت وکړ او پيري سره يې خبرې وکړې او هغه ته يې نصيحت وکړ او د الله په اړه يې هغه ته تذکر ورکړ او ورته يې وويل چې ظلم حرام او لويه ګناه ده، او هغه يې اسلام ته دعوت کړ کله چې پيري ورته وويل چې هغه بودايي کافر دی، او له هغه څخه يې وغوښتل چې له دې ښځې څخه ووځي، نو پيري په اسلام راوړلو باندې قناعت وکړ او خپل اسلام يې ياد شوي عبد الله ته اعلان کړ، بيا ياد شوي عبد الله او د ښځې کورنۍ يې وغوښتل چې ما ته راشي ترڅو د پيري د اسلام راوړلو راوړل واورم، هغوی ماته راغلل او ما ترې د هغه د داخلېدو لاملونه وپوښتل، پيري راته وويل او د ښځې په ژبه يې خبرې وکړې، خو دا د سړي خبرې وې نه د ښځې خبرې، هغه زما تر څنګ چوکۍ باندې ناسته وه او د هغې ورور او خور او ياد شوی عبدالله بن مشرف او ځينې شيخان يې ګوري او د پيري خبرې اوري.

هغه په ښکاره توګه خپل اسلام اعلان کړ او ويې ويل چې هغه بودايي مذهبی هندو دی، بيا مې له نصيحت وروسته هغه ته د الله څخه په ويريدلو وصيت وکړ، او دا چې لدې ښځې څخه ووځي او هغې باندی د ظلم کولو څخه ډډه وکړي، ما ته يې په ځواب کې وويل چې: زه په اسلام باندې قناعت لرم، بيا مې ورته وصيت وکړ چې خپل قوم اسلام ته راوبلي وروسته له دې چې الله تعالی ورته هدايت وکړی، نو د خير وعده يې وکړه او ښځه يې پرېښوده او وروستۍ خبره يې دا وه چې: السلام عليکم. بيا ښځې په عادي ژبه خبرې وکړې او د خپلې ستومانۍ وروسته يې د آرامۍ او راحت احساس وکړ.

بيا له يوې مياشتې يا زياتې مودې وروسته له خپلو دوو ورونو، تره او خور سره بيرته ماته راغله او راته يې وويل، چې الحمد لله هغه ښه ده او پيرى بيرته هغې ته ندى راګرځېدلى، ما له هغې څخه وپوښتل چې کله پيرى د هغې په وجود کې وه څه احساس دې درلوده، نو هغې ځواب راکړ چې هغې د بدو فکرونو احساس کاوه چې د شريعت خلاف وې، او بودايي دين او په اړه يې ليکل شوو کتابونو ته يې د ميلان احساس درلوده.

نو، وروسته له دې چې الله دغه ښځه له هغه څخه وژغورله، دا ډول فکرونه له هغې څخه لاړل او هغه د دې انحرافي فکرونو څخه خلاصه شوه او خپل لومړني حالت ته وګرځېدله.

ماته د شيخ على الطنطاوي په حواله خبر راکړ شو چې هغه د داسې شي واقع کيدل رد کړي دي،

او هغه وويل چې دا يوه دوکه او درواغ دي، او دا ممکن ده چې ښځې سره ثبت شوې خبرې وي، او هغې دا نه وي ويلي، ما د هغه کيسټ غوښتنه وکړه چې په هغه کې يې خپلې خبرې ثبت کړي او له هغه څخه پوه شوم چې هغه څه چې هغه يې يادونه کړې وه، زه ډير حيران شوم چې هغه يې د ثبتولو اجازه ورکړې، که څه هم ما له پيري څخه څو پوښتنې وکړې او هغه به ځواب راکاوه، چې دا له بدو غلطيو څخه دى او دروغو ته جواز ورکول دي او هغه په خپلو خبرو کې دا ادعا هم وکړه چې د انسان په لاس د پيري اسلام راوړل د سليمان -عليه السلام- په کيسه کې د الله –تعالى- له وينا سره په ټکر کې دى:

﴿... وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيٓ ...﴾[ص: 35]

**(او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي) [سورة ص الآية: 35]،**

بې له شکه دا هم د هغه لخوا يوه تيروتنه ده، الله دې ورته هدايت وکړي، او دا يو ناسم فهم دى؛ دا چې په اسلام کې د پيري اسلام راوړل د انسان په لاس باندې کې هيڅ ستونزه نشته چې د سليمان له بلنې دعوت سره په ټکر کې وي. څکه چې د پيغمبراکرم (**صلى الله عليه وسلم**) په لاس ډير شمير پيريانو اسلام قبول کړى دى.

او الله – تعالى- دغه خبره په سورت الاحقاف او سورت الجن کې واضح کړې ده، او په دوو صحيحينو کې له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دي چې رسول الله – **صلى الله عليه وسلم**- وفرمايل:

(إن الشيطان عرض لي فشد علي ليقطع الصلاة علي فأمكنني الله منه فذعته ولقد هممت أن أوثقه إلى سارية حتى تصبحوا فتنظروا إليه ذكرت قول أخي سليمان عليه السلام:

﴿... وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ ...﴾[ص: 35]

فرده الله خاسئاً)

(شيطان ما ته نږدې راغی ترڅو زما لمونځ قطع کړي، او الله ما ته د دې توان راکړ چې هغه را ونيسم، او ما غوښتل چې هغه د جومات ستنې پورې وتړم، ترڅو سبا تاسو ټول هغه وګورئ، نو زما د ورور سليمان -عليه السلام- وينا را ياده شوه چې فرمايلي يې دي:

﴿... وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ ...﴾

**(ای ربه زما ماته بخښنه وکړه او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي) [سورة ص الآية: 35]،**

الله تعالى هغه په مايوس ډول راشخه وګرځاوه).

دا د بخاري الفاظ دي او د مسلم الفاظ دا ډول دي:

(إن عفريتاً من الجن جعل يتفلت عليّ البارحة ليقطع عليّ الصلاة وإن الله أمكنني منه فذعته فلقد هممت أن أربطه إلى جانب سارية من سواري المسجد حتى تصبحوا تنظرون إليه أجمعون أو كلكم ثم ذكرت قول أخي سليمان:

(پرون زما د لمانځه د قطع کولو لپاره د پيريانو څخه يو شيطان ما ته نږدې راغی ترڅو زما لمونځ قطع کړي، او الله ما ته د دې توان راکړ چې هغه را ونيسم، او ما غوښتل چې هغه د جومات ستنې پورې وتړم، ترڅو سبا تاسو ټول هغه وګورئ، نو زما د ورور سليمان -عليه السلام- وينا خبره را ياده شوه:

﴿قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ٣٥﴾[ص: 35]

**(ای الله! ما ته بخښنه وکړه، او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي) [سورة ص الآية: 35]،**

نو الله تعالی هغه په مایوس ډول رد کړ).

نسايي د بخاري په شرط له عائشې -رضی الله عنها- څخه روايت کوي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- لمونځ کاوه، شیطان ورته راغی او رسول الله -**صلی الله علیه وسلم**- هغه ونیوه او څپملاوه او په ستوني ته يې زور ورکړ، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- وفرمايل:

(حتی وجدت برد لسانه على يدي، ولولا دعوة سليمان لأصبح موثقاً حتى يراه الناس)،

(آن تر دې چې ما په خپل لاس د هغه د ژبې يخوالی احساس کړ، او که د سلیمان دعا نه وه، نو هغه به تړل شوی وی ترڅو يې خلک وويني).

احمد او ابو داود د ابو سعيد له حديث څخه روایت کړی دی، او په هغه کې دي:

(فأهويت بيدي فما زلت أخنقه حتى وجدت برد لعابه بين أصبعي هاتين الإبهام والتي تليها)،

(په دې توګه چې ما خپل دواړه لاسونه ښکته وړلې ترڅو يې ستوني باندې زور وکړم، تر دې چې ما د هغه د لاړو يخوالی د خپلو دواړو ګوتو تر منځه - چې د شهادت او هغې ته نږدې ګوته ده - حس کړ)،

بخاري په خپل صحيح کې په ټينګار سره معلق روایت کړی دی چې د فتح جلد 4، مخ 487 کې له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روایت کړی دی چې فرمايلي يې دي:

(وكلني رسول الله بحفظ زكاة رمضان فأتاني آت فجعل يحثو من الطعام فأخذته فقلت والله لأرفعنك إلى رسول الله قال: إني محتاج وعلي عيال ولي حاجة شديدة قال فخليت عنه فأصبحت فقال رسول الله :

(رسول الله -**صلی الله علیه وسلم**- زه د روژې د زکات په ساتلو وګمارلم، نو ماته یو کس راغی چې خواړه يې راټولول، هغه مې ونیوه او ورته مې وويل په الله قسم چې تا به رسول الله ته وړاندې وروړم، هغه وويل: زه اړمن یم او ماشومان

لرم او زه ډیر سخت محتاج یم، هغه وویل چې ما پرېښوده او کله چې سهار شو رسول الله – **صلى الله عليه وسلم**- وفرمایل:

(یا أبا هريرة ما فعل أسيرك البارحة)؟

(اې ابوهریره، پرون شپه دې بندي څه وکړل؟)

قلت يا رسول الله شكا حاجة شديدة وعيالاً فرحمته فخليت سبيله.

قال: ما وویل: ای د الله رسوله، ما ته يې د ډیرې اړمنتیا او د اولاد لرلو شکایت وکړ،نو زړه مې پرې خوږ شو ، او پرې مې ښود، هغه وفرمایل:

(أما إنه قد كَذَبَكَ وسيعود)،

(هغه تا ته دروغ ویلي او هغه به بیا راځي)

(فعرفت أنه سيعود لقول رسول الله ، فرصدته فجاء يحثو من الطعام فأخذته فقلت لأرفعنك إلى رسول الله قال: دعني فإني محتاج وعليّ عيال ولا أعود فرحمته فخليت سبله فأصبحت فقال لي رسول الله :

نو زه پوه شوم چې د رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- د خبرې پر بنیاد هغه به بیا راځي، هغه مې وڅاره، نو راغی چې خوراک او خواړه راټول کړي، هغه مې ونیوه او ورته مې وویل په الله قسم چې تا به رسول الله ته وروړم، هغه وویل: زه اړمن یم او ماشومان لرم او زه ډیر سخت محتاج یم، او بیا نه راځم، هغه وویل چې ما پرېښود او کله چې سهار شو رسول الله – **صلى الله عليه وسلم**- ما ته وفرمایل:

(یا أبا هريرة ما فعل أسيرك البارحة)؟

(اې ابوهریره، پرون ستا زنداني څه وکړل؟)

ما وویل: اې رسول الله هغه ما ته وویل چې زه اړمن یم او ماشومان لرم او زه ډیر سخت محتاج یم، او ما وربانديې رحم وکړ او هغه مې پرېښود، هغه وفرمایل:

(هغه تا ته دروغ ویلي او هغه به بیا راځي)،

(فرصدته الثالثة فجاء يحثو من الطعام فأخذته فقلت لأرفعنك إلى رسول الله ، وهذا آخر ثلاث مرات أنك تزعم لا تعود ثم إنك تعود. قال دعني أعلمك كلمات ينفعك الله بها قلت: ما هي؟ قال إذا أويت إلى فراشك فاقرأ آية الكرسي:

(نو ما دريم ځل لپاره وڅاره، هغه د خوراک د اخيستلو لپاره راغی، نو ما هغه ونيوه او ومې وييل: زه به تا رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- ته وړاندې کړم، او دا آخري دريم ځل دی چې ته وايې بيا نه راځم ليکن ته بيا راغلې. هغه وويل: ما پرېږده زه به تاته داسې کلمې وښايم چې الله پر هغه باندې تاته ګټه ورسوي، ما وويل: هغه څه دي؟ هغه وويل: کله چې د خوب بستر ته ځې نو آيت الکرسي ولوله:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾﴾ [ سورة البقرة◉ الآية: 255]

**(الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی...) [ سورة البقرة، الآية: 255]**

حتى تختم الآية فإنك لن يزال عليك من الله حافظ ولا يقربنك شيطان حتى تصبح، فخليت سبيله فأصبحت فقال لي رسول الله :

تر څو چې آيت پای ته ورسوې، تا لره به د الله له لخوا يو ساتونکی وي او تر سهاره پورې به هيڅ شيطان تا ته نږدې نشي، نو ما هغه پرېښود، نو کله چې سهار شو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- راته وفرمايل:

(ما فعل أسيرك البارحة) ؟

(اې ابوهريره، پرون ستا زنداني څه وکړل؟)

قلت: يا رسول الله زعم أنه يعلمني كلمات ينفعني الله بها فخليت سبيله، قال: (ما هي)؟ قلت: قال لي إذا أويت إلى فراشك فاقرأ آية الكرسي:

ما وويل: يا رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- هغه ادعا وکړه چې ماته داسې کلمات را زده کوي چې الله به ماته په هغې باندې ګټه رسوي، نو ما هغه پرېښود، ويې فرمايل: (هغه کوم کلمات دي؟) ما وويل: هغه راته وويل: کله چې د خوب بستر ته لاړ شې نو آيت کرسي ولوله:

﴿الله لا إله إلا هو الحي القيوم﴾، الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی

تر څو چې آيت پای ته ورسوې

(فإنك لن يزال عليك من الله حافظ ولا يقربك شيطان حتى تصبح، فخليت سبيله فأصبحت فقال لي رسول الله :

تا لره به د الله له لخوا يو ساتونکی وي او تر سهاره پورې به هيڅ شيطان تا ته نږدې نشي، نو ما هغه پرېښوده، نو رسول الله **صلى الله عليه وسلم** راته وفرمايل:

(أما إنه قد صدقك وهو كذوب تعلم من تخاطب منذ ثلاث ليال يا أبا هريرة)؟

(تا ته يې رېښتيا ويلي حال دا چې هغه درواغجن دی، اې ابوهريره ته پوهېږې چې په دې درېو شپو کې له چا سره خبرې کوې)؟

قلت: لا، قال: ما وويل: نه، هغه وفرمايل: (هغه شيطان دی).

او په صحيح حديث کې راغلي دي چې شيخينو له صفيه -رضی الله عنها- څخه روايت کړی چې پيغمبر -صلی الله عليه وسلم- وفرمايل:

(إن الشيطان يجري من ابن آدم مجرى الدم).

(بېشکه شيطان د آدم اولاد کې د وينې په څير جريان لري).

امام احمد په مسند [ ج ٤ ، ٢١٦ مخ ] کې په صحيح سند سره روايت کړی دی چې عثمان بن ابي العاص -رضي الله عنه- وويل : اې د الله رسوله، شيطان زما او زما د لمانځه او قرائت تر منځ مانع شو، هغه وويل:

(ذاك شيطان يقال له خنزب فإذا أنت حسسته فتعوذ بالله منه واتفل عن يسارك ثلاثاً)

(دا هغه شيطان دى چې د خنزب په نوم یادیږي، که تاسو یې کله احساس کړئ نو د هغه څخه الله ته پناه یوسئ او خپل کیڼ اړخ ته درې ځله (لاړې) توف کړئ.

هغه وویل: ما هم همداسې وکړل او الله عزوجل هغه له ما څخه لرې کړ.

په صحیح احادیثو کې هم دا ثابته ده چې هر انسان لره د ملائکو څخه ملګری او د شیطانانو څخه ملګری وي حتی رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- سره هم شته، مګر الله تعالی د هغه په مقابل کې یې مرسته وکړه او هغه اسلام قبول کړ نو هغه ورته امر نه کوي مګر په خیر سره.

د الله -عزوجل- کتاب، او د هغه د رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- سنت او د امت اجماع په دې دلالت کوي، چې د پیرې لپاره جواز لري چې انسان کې ننوځي او هغه وځپي، نو د هغه چا لپاره ځنګه جواز لري چې علم ته ځان منسوبوي او ددې څخه انکار وکړي، پرته له کوم علم او لاربنوونې څخه، بلکې د ځینو بدعتیانو او د اهل سنت او جماعت مخالفینو په تقلید سره، نو الله مرسته کوونکی دی او له الله پرته بل هیڅ ځواک او قوت نشته.

ګرانه لوستونکیه، زه به تا ته د دې په اړه د پوهانو د ویناوو څخه یادونه وکړم إن شاء الله.

د مفسرینو د خبرو بیان د الله تعالی په دې قول کې:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾[البقرة: 275]

**(هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو څخه) نه پاڅیږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شیطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي) [سورة البقرة، الآية: 275].**

ابوجعفر بن جریر -رحمه الله- د الله –تعالی- د دې آیت په تفسیر کې فرمایلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾[البقرة: 275]

**(هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅيږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بد حواسه کړی وي) [سورة البقرة، الآية: 275]**

او د هغه نص : په دې معنا چې شيطان يې په دې دنيا کې غولوي، او هغه څوک دی چې هغه له ستونې نيسي او غورځوي يې (من المس) يعني د ليونتوب له وجهې نه.

بغوي -رحمه الله- د پورتني آيت په تفسير کې ويلي دي:

﴿... لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾

**(دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅيږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي)[سورة البقرة، الآية: 275]،**

يعنې: ليونتوب. ويل کيږي چې (مس الرجل) يعني يو سړی ليونی شو او هغه ممسوس دی يعنې ليونی شوی. د خبرې تر آخره پورې.

ابن کثير رحمه الله د پورتني آيت په تفسير کې ويلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾

**(هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅيږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بد حواسه کړی وي) [سورة البقرة، الآية: 275]،**

يعنې: د قيامت په ورځ به له خپلو قبرونو څخه نه راپاڅيږي مګر داسې چې بې هوښه شوی سړی چې د صرعې له حالت څخه را پاڅيږي او شيطان په خوارۍ او بد حواسۍ حالت کې راپاڅيږي څکه چې هغه ډير په بد او ناوړه حالت کې را پاڅيږي.

ابن عباس رضي الله عنه فرمايي:

(سود خوړونکی به دقیامت په ورځ داسې راپورته کیږي لکه لیونی چې له ستوني څخه نیول شوی وي).

ابن ابي حاتم روایت کړی، او ویلي دي چې:

د عوف بن مالک، سعید بن جبیر، السدي، الربیع بن انس، قتاده او مقاتل بن حیان څخه همدا ډول روایت دی، د هغه -رحمه الله- د خبرو مقصد ختم شو.

قرطبي -رحمه الله- د الله - تعالی- د دغه آیت په تفسیر کې ویلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾

**(هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅیږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شیطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي).[سورة البقرة، الآية: 275]،**

دا آیت په هغو کسانو دلیل دی چې د پیریانو له نیونې څخه انکار کوي او ادعا کوي چې دا یو فطري عمل دی او دا چې شیطان په انسان کې نه ننوځي او نه ورته لیونتوب رسولی شي، خبره یې پای ته ورسیده، او په دې اړه د مفسرینو ویناوې ډیرې دي، څوک چې وغواړي موندلی یې شي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپل کتاب (إيضاح الدلالة في عموم الرسالة للثقلين) کې ویلي دي: چې په مجموع الفتاوی جلد ۱۹ له ۹ مخ څخه تر ۶۵ مخ پورې، چې له مخکینۍ وینا څخه وروسته یې متن په لاندې ډول دی:

له همدې امله د معتزله و یوې ډلې لکه الجبائي، او ابوبکر الرازي او نورو د پیریاني کس په بدن کې د پیریانو له داخلېدو څخه انکار کړی او د پیریانو له وجوده یې انکار ندي کړی، که څه هم دا په منقول کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه را نقل شوي دي نشته، لکه د دې ښکاره کېدو په څېر، که څه هم دوی په دې کې خطا کاران شوي.

له همدې امله اشعري د اهل سنت والجماعت په مقالو کې یادونه کړې چې دوی وایي چې پیریان د مصروع شوي انسان په بدن کې ننوځي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾

**(هغه کسان چې سود خوري ؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅيږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي) [سورة البقرة، الآية: 275]،**

عبدالله بن احمد بن حنبل وايي: ما خپل پلار ته وويل چې ځيني خلک ادعا کوي چې پيريان د انسان بدن ته نه ننوځي، هغه وويل:

اې زما زويه، هغوی دروغ وايي، هغه په خپله ژبه خبرې کوي او دا په خپل ځای کې څرګند دی.

او هغه - رحمه الله- په الفتاوی په 24 ټوک، 276-277 کې دا هم وويل چې متن يې دا دی:

د پيريانو موجوديت د الله په کتاب او د هغه د رسول -**صلى الله عليه وسلم**- په سنتو او د امت د سلفو او امامانو په توافق ثابت شوی دی، او همدارنګه د انسان بدن ته د پيريانو داخلېدل هم اهل سنت والجماعت د امامانو لخوا ثابت شوی دی.

الله - تعالی- فرمايلي:

﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ...﴾

**(هغه کسان چې سود خوري؛ دوی به (له قبرونو نه) نه پاڅيږي مګر په شان د پاڅېدلو د هغه کس چې شيطان هغه په لېونتوب سره بدحواسه کړی وي) [سورة البقرة، الآية: 275]،**

او په صحيح حديث کې له رسول الله **صلى الله عليه وسلم** څخه نقل شوي دي:

(أن الشيطان يجري من ابن آدم مجرى الدم).

(بېشکه شيطان د آدم اولاد کې د وينې د جريان په څير حرکت لري).

عبدالله بن امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي:

پلار ته مې وويل چې ځيني خلک وايي چې پيريان د مصروع شوي کس په بدن کې نه ننوځي، هغه وويل:

اې زويه هغوی درواغ وايي، هغه د هغه په ژبه خبرې کوي.

او هغه څه يې چې وويل يې يوه مشهوره خبره ده، ځکه چې سړی د صرعې (ميرګي) په ناروغۍ اخته وي هغه په داسې ژبه خبرې کوي چې په معنا يې نه پوهيږي، او په خپل بدن باندې سخته ضربه وهي، که چيرې اوښ پرې ووهل شي هغه باندې به ډير لوی تاثير وکړي، لدې سره هم مصروع شوی (مېرګو والا) د وهلو احساس نه کوي، او نه د هغه خبرې چې هغه کوي، او ممکن چې مصروع شوی کس روغ سړی کش کړي او هغه غالۍ چې هغه پرې ناست وي له يو ځايه بل ځای ته کش کړي او ماشينونه له يوه ځايه بل ځای ته وړي او داسې نور شيان هم پېښيږي چې څوک يې شاهدان وي هغوی دغه خبره تاييده کړېده، چې د انسان په ژبه خبرې کوي، او د دې جسمونو حرکت ورکونکی د انسان پرته بل جنس دی.

او په مسلمانو امامانو کې داسې څوک نشته چې د مصروع (ميرګي لرونکی انسان) په بدن کې د پيري له ننوتلو څخه انکار وکړي، او څوک چې دا ردوي او ادعا کوي چې شريعت دا دروغ ګڼي، نو په حقيقت کې هغه د شريعت پر خلاف درواغ ويل شوي دي او په شرعي دلائلو کې يې د انکار لپاره هيڅ نشته. خبره يې پای ته ورسيدله.

او امام ابن القيم -رحمه الله- په خپل کتاب زاد المعاد في هدي خير العباد، جلد ۴، ۶۶-۶۹ مخونو کې ويلي، چې متن يې دا دی:

صرع (ميرګي) په دوه ډوله دي: د ځمکې له خبيثو ارواحو څخه صرع، او له بدو ګډ شوو څخه صرع، او دويم: هغه چې ډاکټران يې د علت او درملنې په اړه خبرې کوي.

ليکن د ارواحو صرع (ميرګي): د دوی امامان او عقلمن خلک دا مني او نه يې ردوي، او دوی دا مني چې د هغې بدو او خبيثو ارواحو درملنې پر ځای د غوره او نيکو ارواحو سره ترسره کيدلی شي، او د هغه اغيزې له مينځه وړل کيدلی شي، د هغه له کړنو څخه مخنيوی کوي او باطلوي يې، دا خبره بقراط په خپلو ځينو کتابونو کې بيان کړې او د صرع د درملنې ځينې طريقې يې ذکر کړي او ويلي يې دي:

دا يوازې د هغې صرعې (ميرګي) لپاره ګټه لري چې د اخلاطو او مادو له امله رامينځته شوي وي، او هغه صرع (ميرګي) چې لامل يې ارواح وي دغه درملنه د هغه لپاره ګټه نه رسوي.

او جاهل طبيبان، غورځيدلي او د ټيټې درجې لرونکي، او هغه څوک چې زنديقيت باندې پاتې کېدل فضيلت ګڼي، دوی د روح له صرعې څخه انکار کوي. دوی دا نه مني چې دا د مصروع شوي انسان په بدن اغيزه کوي او له دوی سره له ناپوهۍ پرته بل څه نشته، او دا چې په طبي صنعت کې هيڅ شی شتون نلري چې دا خبرې رد کړي، حس او

وجود پردې باندې شاهدي ورکوي، او د دوی د باور راجع کول د اخلاطو او مرکباتو په ډېر والي سره ریښتیا دی لیکن په ځینو برخو کې، نه په ټولو کې. تر دې چې هغه وویل:

زندیقان ډاکټران راغلل او یوازې د اخلاطو د صرعې پرته یې بل څه ثابت نه کړی شول، او څوک چې د دې ارواحو او د هغو د اغیزو په اړه عقل او پوهه ولري د دې خلکو په ناپوهۍ او د عقل په کمزورۍ باندې به وخاندي.

د دې ډول درملنه په دوو شیانو ولاړه ده: یوه د مصروع شوي انسان لخوا او بله د علاج کوونکي لخوا، نو هغه څه چې د مصروع شوي انسان لخوا دي هغه د هغه د نفس قوت دی، او هغه په ریښتیا سره د ارواحو پیدا کوونکي ته ګرځیدل دي، او په هغه باندې صحیح ډول پناه غوښتل دي چې زړه او ژبه یې سره پرې سلا وي.

دا یو ډول جګړه ده، او جنګیالی له دوو شیانو پرته له خپل دښمن څخه د وسلې په مقابل کې مقاومت نه شي کولی: دا چې وسله په خپل ذات کې سمه وي، او دا چې مټ یې پیاوړی وي، نو کله چې یو له لدې دوو شیانو څخه شتون ونلري وسله به ډېره ګټه ونه لري، نو هغه حالت به څنګه وي چې دواړه شتون ونلري، او زړه یې ویجاړ شوی وي او په هغه کې توحید، توکل، تقوا او توجه شتون و نلري، او وسله هم و نلري.

دویم د درملنې له اړخه، چې دا دواړه کارونه هم پکې وي، آن تر دې چې ځینو له درملنه کوونکو څخه پدې وینا سره بسنه کوي چې ورته ووایي: (وځه ترې ) یا ووایي: (بسم الله) یا ووایي: (لا حول ولا قوة إلا بالله) او پیغمبر -**صلی الله علیه وسلم**- به ویل:

(اخرج عدو الله أنا رسول الله).

(د الله دښمنه ووځه، زه د الله رسول یم).

او ما زمونږ شیخ لیدلی چې مصروع شوي کس ته یو څوک لیږدوي هغه یې له روح سره خبري کوي او ورته وایي: شیخ تاته ویلي چې ووځه، ځکه چې دا کار ستا لپاره روا ندی، نو مصروع شوی کس پاڅیږي او ښایي پخپله روح ته خطاب وکړي، او ښایي روح ګمراه کوونکی شیطان وي، نو هغه په وهلو سره راوباسي، نو مصروع شوی کس راویښیږي او درد نه احساسوي.

مونږ او نورو دا څو ځله لیدلي، تر دې چې هغه وویل:

لنډه دا چې، دا ډول صرع او د هغې د درملنې څخه یوازې هغه کسان انکار کوي چې د پوهې، عقل او معرفت څخه په لږه پیمانه برخمن وي.

او د خبیثه ارواحو د تسلط ډیره برخه پر هغه کورنۍ باندې وي چې د دين کموالی، او د زړونو او ژبو خرابوالی ورلري، د اذکارو، معوذاتو، نبوي او ايماني ځان ساتونکو ذکرونو څخه خه ونلري، نو خبيثه او ناوړه روح بې وسلې کس مومي او ممکن چې دغه کس لوڅ او بربنډ وي (جامې پر ځان ونلري) نو دا هغه باندې اغيزه کوي. د هغه - رحمه الله- مقصود پای ته وسيد.

هغه څه چې مو له شرعي دلائلو او د اهل سنت او جماعت او د فقهاوو د اجماع له مخې د انسان په وجود کې د پیري د داخلېدو د جواز په اړه ياد کړل، لوستونکو ته د منکرو د قول بطلان معلوموي. او شيخ على الطنطاوی دلته تیروتنه کړې چې له هغه څخه يې انکار کړی دی.

او هغه په خپلو خبرو کې وعده کړېده چې د حق لوري ته به راګرځي کله چې هغه ته لاربښوونه وشي، نو ښايي د هغه څه له لوستلو وروسته چې مونږ ورته اشاره کړې ده، حق ته راوګرځي. له الله څخه خپل ځان او هغه ته د لاربښونې او توفيق غوښتنه کوو.

له هغه څه څخه چې مونږ يې يادونه وکړه، دا هم معلومیږي څه چې د ندوة ورځپاڼې په خپله ګڼه کې په 1407/10/14هـ ، 8 مخ کې د ډاکټر محمد عرفان له قوله راخيستي چې د جنون (ليونتوب) کلمه د طبي ډکشنرۍ څخه لمنځه تللې ده، او د هغه ادعا چې د پیري ننوتل په انسان کې او د هغه په ژبه خبرې کول سل په سلو کې علمي تيروتنه ده.

دا ټول دروا غ دي، کوم چې په شرعي مسائلو په نه پوهېدنې دلالت کوي او هغه څه چې د اهل سنت او جماعت د علماوو لخوا تاييد شوي دي.

که دا خبره ډېرو ډاکټرانو ته ښکاره او معلومه نه وي، دا پدې دلالت نکوي چې دا څیز شتون نلري، بلکې دا د دوی له سترې ناپوهۍ پرده پورته کوي، کوم چې نورو علماوو چې هغوی ددين په مسئله کې په صداقت، امانتدارۍ او بصيرت باندې شهرت لري، بلکه پر دې باندې د اهل سنت والجماعت اجماع ده.

لکه څرنګه چې شيخ الاسلام ابن تيميه -رحمه الله- پدې اړه له ټولو علماوو څخه نقل کړی، او له ابو الحسن الأشعري څخه يې هم نقل کړی چې هغه د اهل سنت او جماعت څخه نقل کړی، او همدارنګه د علامه ابو الحسن الأشعري څخه : ابو عبدالله محمد بن عبدالله الشبلي الحنفي چې په ۷۹۹ هجري کې وفات شوی په خپل کتاب (آکام المرجان في غرائب الأخبار وأحكام الجان) کې په پنځوسم باب کې نقل کړي دي.

مخکې د ابن القيم رحمه الله په وينا کې وويل شو چې د ډاکټرانو مخکښان او عقل لرونکي خلک پدې باندې اعتراف کوي او هغه نه ردوي، بلکي دا خبره د جاهل، بې ارزښت او زنديقو ډاکټرانو لخوا رد شوی ده.

نو پوه شه ګرانه لوستونکيه او په هغه څه چې مونږ حقايق بيان کړي دي ټينګ اوسه، او په ناپوهه ډاکټرانو او نورو باندې مه دوکه کېږه، او نه په هغو کسانو چې بې له پوهې او بصيرت څخه په دې موضوع کې خبرې کوي ، او نه د جاهلو ډاکټرانو او ځيني معتزله بدعتيانو او داسې نورو په تقليد باندې مه دوکه کېږه، الله تعالی مرسته کوونکی دی.

# پاملرنه

هغه څه چې مونږ د رسول الله -**صلى الله عليه وسلم**- له صحيحو احاديثو او د اهل علمو له قوله ذکر کړي دي، دا په ډاګه کوي چې پيريانو ته وينا، وعظ، نصيحت کول، او اسلام ته د هغوی رابلل، او د هغوی له طرفه د بلني منل هغه څه سره مخالفت نه لري چې الله - تعالى- په ص سورت کې د سليمان - **عليه الصلاة السلام** - په باره کې اشاره کړې ده چې فرمايلي يې دي:

﴿قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ﴾ [ص: 35]

**(ای زما ربه! ته ما وبخښه او ما ته داسې باچاهي راکړه چې له ما نه پس د چا لپاره هم مناسب نه وي، بېشکه هم ته ښه ډالی ورکوونکی وي). [سورة ص الآية: 35]،**

په دې ډول د هغه په نيکۍ سره امر کول او له بديو څخه يې منع کول او د هغه وهل کله چې د وتلو څخه ډډه وکړي، دا ټول له پورتني آيت سره په ټکر کې ندي، بلکې دا د بريد کوونکي مخنيوی او د مظلوم سره د مرستې کول او امر بالمعروف او نهى عن المنكر څخه دي، لکه څرنګه چې د انسان سره ترسره کيږي.

په مخکې صحيح حديث کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

(ذعت الشيطان حتى سال لعابه)

(د شيطان ستونې باندې مې تر هغه وخته پورې زور کړ تر څو چې د هغه لاړې و بهېدلې)

د هغه - **عليه الصلاة والسلام**- په مبارکې لاس باندې، او ويې فرمايل:

(لولا دعوة أخي سليمان لأصبح موثقا حتى يراه الناس)،

( که زما د ورور سليمان دعا نه وای نو هغه به تړل شوی وای ترڅو يې خلك وويني).

او د مسلم په روايت د ابو الدرداء - رضی الله عنه - له حديث څخه چې رسول الله - **صلى الله عليه وسلم**- وفرمايل:

(إن عدو الله إبليس جاء بشهاب من نار ليجعله في وجهي فقلت: أعوذ بالله منك ثلاث مرات، ثم قلت ألعنك بلعنة الله التامة -فلم يستأخر- ثلاث مرات، ثم أردت أخذه والله لولا دعوة أخينا سليمان لأصبح موثقا يلعب به ولدان أهل المدينة)،

(د الله دښمن ابليس د اور له شعلې سره راغی ترڅو يې زما پر مخ راواچوي، نو ما وويل: أعوذ بالله منك (زه له تا څخه الله ته پناه وړم) درې ځلې، بيا مې وويل: د الله په پوره لعنت سره تا باندې لعنت وايم -بيا هم شاته نه شو- درې ځلې، بيا مې غوښتل چې هغه ونيسم، نو په الله قسم چې زما د ورور سليمان دعوت نه وی هغه به تړلی شوی وی او د کلي ماشومانو به هغه باندې لوبې کولي).

او په دې معنا سره ګڼ شمير حديثونه، او همدارنګه د اهل علم خبرې شتون لري.

او هيله لرم هغه څه چې مونږ ذکر کړل د حق غوښتونکي لپاره پوره او قانع کونکی وي، او له الله څخه د هغه په ښکلو نومونو او لوړو صفتونو سره غوښتنه کوم چې موږ او نورو ټولو مسلمانانو ته د هغه د دين د پوهيدو او په هغه باندې د ثابت پاتې کيدو په اړه مرسته وکړي. او مونږ باندې ددې احسان وکړي چې په قول او عمل کې حق پيدا او عملي يې کړو، موږ او ټول مسلمانان دې د هغه څه څخه وساتي چې له علم پرته خبرې وکړو او له هغه څه څخه انکار وکړو چې د هغه په اړه پوهه نلرو، هغه ښه ساتونکی او قادر - ذات - دی.

**وصلى الله وسلم على عبده ورسوله نبينا محمد وعلى آله وأصحابه وأتباعه بإحسان.**

# فهرست


سرېزه ........ 4

دجادواولهغیبوڅخهدخبرورکولوحکماوهغهڅهچېورسرهتړاولري ........ 6

پرخاوندباندپدښځېسحر ( جادو ) ........ 19

دساحرانواوجادوګرانوڅخهپوښتنهکول ........ 22

هغهولسیډاکټرباندېدرملنهکولچېپیریانکاروي ........ 25

دجادوشرعیدرمل ........ 27

دانسانبدنتهدپیریدننوتلودحقیقتروښانهکولاوهغهچاباندېردکولچېلدېڅخهانکارکوي ........ 33

پاملرنه ........ 48

فهرست ........ 50

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبوية وشروحها بعدة لغات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com
موسوعة تضم ترجمات المصطلحات الإسلامية وشروحها بعدة لغات

منتقى المحتوى الإسلامي
موسوعة تضم المنتقى من المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com
مرجعية مجانية إلكترونية موثوقة للتعريف بالإسلام

# ننشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات